د روت کتاب

د کتاب پېژندنه

د روت کتاب د قاضیانو په زمانه کې د یوې اسراییلي کورنۍ لنډه کیسه ده. که څه هم دا د اسراییلو د تاریخ په اوږدو کې یوه تیاره دوره وه، خو مونږ د دې کیسې په جریان کې د سولې وخت او داسې خلک ګورو چې د دینداریٔ ژوند یې تېراوه.

په اسراییلو کې د قحطۍ له
امله د پلار، مور او دوو زامنو په
ګډون یوه کورنۍ موآب ته کډه
کوي، چېرې چې د دې کورنۍ
پلار مړ کیږي. هغه دوه زامن د
موآبي ښځو سره ودونه کوي، خو
دا دواړه زامن هم مړه کیږي او
مور یې د خپلو دوو موآبي
انږورګانو سره پاتې کیږي. د زامنو
مور چې نعومي نومیږي، پریکړه
کوي چې اسراییلو ته بېرته لاړه
شي، نو د نعومي یوه انږور په

موآب کې پاتې کیږي، خو د روت په نامه بله انږور له نعومي سره په ملګرتیا باندې ټینګار کوي.

د کیسې پاتې برخه دا ښایي چې خدای څنګه د نعومي او روت د ژوند د ښه والي دپاره حالات کاروي. د نعومي د میړه یو نژدې خپلوان چې بوعز نومیږي، د روت سره واده کوي او د هغې او د هغې د خوابنې دپاره

خواړه تياروي. د دوی زوی د
داود پاچا او د هغې وروسته د
عیسی مسیح نیکه کیږي.

په دې کتاب کې یوه مهمه
خبره د یو نژدې خپلوان موضوع
ده چې د خپلو غریبو خپلوانو
بخت بېرته بیداروي. د دې کتاب
یو مشهور آیت ۱:۱۶ دی، چېرې
چې روت نعومي ته خپله
وفاداري څرګندوي. موآبی روت
د اسراییلو د تاریخ برخه ګرځي

او له همدې امله له خپلې خوابنې سره د خپلې وفاداری له امله اجر ترلاسه کوي.

د نعومي په څېر زياتره ايمانداران د سخت زيان سره مخامخ شوي دي، بيا هم عيسی مسيح د دوی سره ولاړ دی، ترڅو ورسره مرسته وکړي او د دوی قسمت بېرته ښه کړي. خدای دا قدرت لري چې د هغوی د ژوند حالات بدل کړي.

خو مهمه خبره دا ده چې هغوی خدای ته وفادار پاتې شي.

د موضوعګانو لست:

نعومي او روت ببرته بیت‌لحم ته راځي: ۱ فصل

روت د بوعز سره ګوري: ۲ - ۳ فصلونه

بوعز د روت سره واده کوي: ۴ فصل

اليملک او د هغه کورنۍ موآب ته کډه کوي

۱ په هغې زمانه کې کله چې ۲
قاضيانو په اسراييلو باندې
حکومت کاوه، يو سړی چې
اليملک نومېده او د افراتې د
طايفې څخه ؤ، د يهودا د سيمې د
بيت‌لحم په ښار کې اوسېده. د
هغه ښځه نعومي نومېدله او دوه
زامن يې محلون او کليون وو. خو
کله چې په هغه وطن کې قحطي

راغله، دوی د موآب هېواد په لور
کډه وکړه چې هلته واوسيږي. هغه
وخت چې دوی هلته وو، ۳
اليملک مړ شو او نعومي د خپلو
دوو زامنو سره يوازې پاتې شوه.
۴ وروسته د نعومي زامنو موآبي
ښځې وکړې. د يوې نوم عرفه او
د بلې نوم روت ؤ. وروسته له
هغې چې هغوی هلته نژدې لس
کاله اوسېدل، ۵ محلون او کليون
هم مړه شول. نو اوس نعومي مېړه
او زامن دواړه نه درلودل.

۶-۷ کله چې نعومي واوړېدل
چې څښتن خپلو خلکو ته په ښو
فصلونو سره برکت ورکړ، هغې د
خپلو انډورګانو سره تیاری ونیوه
چې موآب پرېږدي او د یهودا
خاورې ته لاړه شي. هغه وخت
چې دوی په خپله لار روانې وې
۸ نعومي خپلو دواړو انډورګانو
ته وویل: «ځئ هره یوه د خپلو
میندو کورونو ته لاړې شئ، زما

څښتن دې په تاسو مهربانه شي
لکه څنګه چې تاسو په ما او زما
په مړو زامنو باندې مهرباني وکړه.
۹ خدای دې تاسو هرې یوې ته
بل میړه او کور درکړي.» نعومي
دوی ښکل کړې. هغوی په لوړ
اواز سره وژړل ۱۰ او ویې ویل:
«نه، مونږ غواړو چې ستا سره
لاړې شو او ستا د خلکو په منځ
کې واوسو.» ۱۱ خو نعومي په
ځواب کې وویل: «زما لورګانو،
تاسو ولې خپلو کورونو ته نه

ستنېږئ؟ زما سره ستاسو تګ
تاسو ته څه ګټه رسوي؟ تاسو
فکر کوئ چې زه به نور زامن
راوړم، ترڅو د هغوی سره تاسو
ودونه وکړئ؟ ۱۲ بېرته کور ته
لاړې شئ زما لورګانو، ځکه چې
زه ډېره زړه یم او بیا د واده کولو
وړ نه یم. حتی که چېرې زه نن
شپه هم واده شم او زامن وزېږوم،
۱۳ نو ایا تاسو به هغوی ته صبر
وکړئ چې هغوی ځلمیان شي او
تاسو سره واده وکړي؟ نه، زما

لورګانو! ژوند زما دپاره ستاسو په
پرتله ډېر سخت دی، ځکه چې
څښتن اوس په ما دا سخته
راوستې ده.» ۱۴ دوی بیا وژړل
او عرفې خپله خوابنې د خدای
پامانۍ په وخت کې ښکل کړه،
خو روت د هغې لمن پرېنښودله.

۱۵ نعومي بیا روت ته وویل:
«کوره ستا یور بېرته خپلو خلکو
او خپل خدای ته ځي! ته ولې
هغې سره نه ځې؟» ۱۶ روت په

ځواب کې وویل: «ما ته مه وایه چې تا پرېږدم او کور ته ستنه شم! زه به هلته ځم چېرته چې ته ځې او زه به هلته اوسېږم چېرته چې ته اوسېږې. ستا خلک به زما خلک وي او ستا خدای به زما خدای وي. ۱۷ زه به هلته مړه کېږم چېرته چې ته مړه کېږې او هلته به ښخېږم. څښتن دې ما ته د ټولو نه درنده سزا راکړي که چېرې د مرګ نه پرته سره بېل شو.»

۱۸ کله چې نعومي وليدل چې
روت کلکه اراده کړې چې د هغې
سره لاړه شي، نو نعومي هغه نوره
مجبوره نه کړه چې بېرته موآب
ته لاړه شي. ۱۹ هغوی دواړه
بیت‌لحم ته ورسېدلې او د ټول
ښار خلک خوشحاله شول او
ښځو د یو بل څخه وپوښتل: «ایا
دا په رښتیا نعومي ده؟» ۲۰ بیا
هغې دوی ته وویل: «له دې
وروسته ما نعومي مه بولئ! ما
ماره بولئ، ځکه چې مطلق قادر

خدای زما ژوند تریخ کړی دی.
۲۱ کله چې زه لاړم نو ما هر څه
درلودل، خو څښتن زه بېرته تش
لاس راوستلې یم. څنګه تاسو
کولای شئ بیاهم ما نعومي
وبولئ؟ اوس مطلق قادر څښتن
زما په ضد شوی دی او زما ژوند
یې ډېر سخت کړی دی.»

۲۲ نو په دې ډول نعومي د
خپلې موآبي انږور سره د موآب
څخه بېرته راغله. دوی په داسې

حال کې بیت‌لحم ته راورسېدلې
چې د اوربشو لو په پیل کېدلو ؤ.

روت د بوعز په پټیو کې کار کوي

۱ نعومي یو شتمن او مهم
خپلوان درلود چې بوعز نومېده
چې د هغې د مېړه الیملک د
کورنۍ څخه ؤ. ۲ یوه ورځ
روت نعومي ته وویل: «که ستا
خوښه وي زه به پټیو ته لاړه شم
او هغه وړې به راټول کړم چې د
لوګرو څخه پاتې شوي دي. زه

باور لرم داسې یو څوک به پیدا
کړم چې ما ته د دې کار د کولو
اجازه راکړي.» نعومي ځواب
ورکړ: «ځه لورې لاړه شه.» ۳
نو روت پټیو ته لاړه، د لوګرو
پسې روانه شوه او هغه وږي یې
راټولول چې د دوی څخه به پاتې
کېدل. په هغو پټیو کې چې هغې
کار کاوه، هغه د بوعز وو.

۴ څه وخت وروسته بوعز په
خپله د بیت‌لحم نه راغی او لوګرو

ته يې وويل: «څښتن مو مل شه!» هغوی ورته په ځواب کې وويل: «څښتن دې تا ته برکت درکړي.» ۵ بوعز د لوګرو د مشر څخه پوښتنه وکړه: «هغه ځوانه ښځه څوک ده؟» ۶ سړي په ځواب کې وويل: «دا هغه موآبۍ ښځه ده چې د نعومي سره د موآب نه راغلې ده. ۷ هغې زما څخه اجازه وغوښتله چې لاړه شي او هغه وړې راټول کړي چې د لوګرو څخه پاتې کيږي.

هغه د سهار وختي نه تراوسه
پورې کار کوي او همداوس يې
کار بس کړ چې د جونګړې
لاندې لږ ارام وکړي.»

۸ نو بيا بوعز روت ته ورغی
او ويې ويل: «زه فکر کوم تا ته
به دا ډېره ښه وي چې د بل چا
په پټيو کې وږي راټول نه کړې.
ته همدلته د ښځو سره پاتې شه
۹ او زما په پټيو کې د لوګرو
پسې وږي راټول کړه. ما سړيو ته

امر کړی چې تا ونه ځوروي او هرکله چې تږې کېږې، د هغو منګیو څخه اوبه څښلی شې چې هغوی ډک کړي دي.» ۱۰ روت د درناوي په خاطر ټیټه شوه او ویې ویل: «ته پوهېږې چې زه د بل هېواد څخه راغلې یم. ته ولې زما سره دومره نېکي کوې؟» ۱۱ بوعز په ځواب کې وویل: «ما د ټولو هغو شیانو په هکله اوربدلي دي چې تا د خپلې خوابنې دپاره د خپل مېړه د مرګ څخه وروسته

ترسره کړي دي. زه پوهېږم چې
څنګه تا خپله مور او پلار او
خپل هېواد پرېښود او څنګه
راغلې، ترڅو د داسې خلکو په
منځ کې واوسېږې چې تا پخوا
هېڅ نه پېژندل. ۱۲ زه دعا کوم
چې څښتن دې د دې کار دپاره
تا ته اجر درکړي. د اسراییلو
څښتن خدای چې تا ورته پناه
وروړې ده، د دې کار پوره اجر
درکړي.» ۱۳ روت په ځواب کې
وویل: «زما باداره، دا ستا ډېره

نېکي ده چې ته په ډېرې مهربانۍ
سره زما سره خبرې کوې او زما
هرکلی کوې، زه حتی ستا د یوې
وینځې برابره هم نه یم.»

۱۴ د ډوډۍ خوړلو په وخت
کې بوعز روت ته وویل: «راځه
مونږ سره ډوډۍ وخوره. لږه
ډوډۍ واخله او په سرکه کې یې
لمده کړه.» هغه د لوګرو سره
کښېناسته او بوعز هغې ته وریتې
شوې غلې دانې ورکړې، روت

چې څومره غوښتل ویې خوړې
او لږې ورځخه پاتې هم شوې.
۱۵ وروسته د هغې چې روت د
وږو د راټولولو دپاره لاړه، بوعز
خپلو سړیو ته وویل: «هغه
پرېږدئ چې د ګډیو څخه هم
وږي واخلي. ۱۶ د ګډیو څخه
هم یو څه وږي راوباسئ او ورته
یې پرېږدئ او د هغې سره سختې
خبرې مه کوئ!»

۱۷ نو روت په پټیو کې تر

مانبنامه پورې کار وکړ. کله چې
هغې ټول وږي وټکول، نو هغه
لس کیلوګرامه وو. (۱۸) هغې دا
وږي ښار ته یووړل او خپلې
خوښې ته یې وروښودل چې
څومره یې راټول کړي وو. روت
هغه ډوډۍ هم ورته ورکړه چې د
غرمې نه پاتې شوې وه. (۱۹)
نعومي وویل: «تا نن چېرته او د
چا په پټیو کې کار وکړ؟ خدای
دې هغه سړي ته برکت ورکړي
چې ستا سره یې ډېر ښه چلند

وکړ!» بیا روت هغې ته وویل:
«ما د یو سړي په پټیو کې کار
وکړ چې بوعز نومیږه.» ۲۰ نعومي
په ځواب کې وویل: «څښتن دې
بوعز ته برکت ورکړي! څښتن تل
د مړو او ژوندیو سره وفادار
دی.» نعومي زیاته کړه: «بوعز
زمونږ د هغو نژدې خپلوانو د ډلې
څخه دی چې زمونږ ساتنه
کوي.» ۲۱ روت هغې ته وویل:
«بوعز حتی ما ته وویل چې د لو
تر خلاصیدلو پورې زما د لوڅرو

سره وړي راټولوه.» ۲۲ نعومي په
ځواب کې وويل: «زما لورې دا
ښه خبره ده چې ته د هغو ښځو
سره وړي راټول کړې چې د بوعز
په پټيو کې کار کوي، ځکه کېدای
شي د بل چا په پټيو کې ستا سره
بد چلند وشي!» ۲۳ نو بيا روت د
کار کولو په وخت کې نورو ښځو
سره نژدې اوسېدله. روت تر هغه
وخته پورې په پټيو کې کار کاوه،
ترڅو چې ټولې اوربشې او غنم
ورېبل شول. په دې ټوله موده کې

هغه د خپلې خوانښې سره
اوسېدله.

د روت دپاره د نعومي پلان

۱ څه موده وروسته نعومي
روت ته وویل: «ای زما لورې زه
باید ستا دپاره میړه پیدا کړم، هغه
به تا ته کور درکړي او په تا به
پام کوي. ۲ ته پوهېږې چې
بوعز زمونږ خپلوان دی او تا د
هغو ښځو سره وږي راټول کړي
دي چې د هغه دپاره کار کوي.

کوره، نن شپه به هغه په درمند باندې اوربشې بادوي. ۳ اوس ولامبه او لږ عطر په ځان واچوه، بیا خپلې بنې جامې واغونده او درمند ته لاړه شه. خو ترڅو پورې چې هغه د خوراک او څښاک څخه وزګار شوی نه وي، خپل ځان مه ورښکاره کوه. ۴ وګوره چې هغه چېرته څملي، بیا کله چې هغه ویده شي، پښې یې لوڅې کړه او د هغه د پښو سره پرېوځه. بیا به هغه تا ته ووایي

چې څه وکړې.» ۵ روت په
ځواب کې وویل: «څه چې ته
وایې هماغسې به وکړم.»

۶ نو روت درمند ته لاړه او
هماغسې یې وکړل لکه څنګه
چې خوابښې یې ورته ویلي وو.
۷ وروسته له خوړلو او څښلو نه
بوعز د خوشحالۍ احساس کاوه،
هغه لاړ او د غلو دانو د ډېرۍ
ترڅنګ ویده شو. روت غلې
غلې ورنژدې شوه، هغې د بوعز

پښې لوڅې کړې او د هغه د پښو
سره پرېوتله. ۸ د نیمې شپې په
شاوخوا کې، بوعز ناڅاپه راویښ
شو او ډېر حیران شو چې خپلو
پښو سره یې ښځه ولیدله. ۹ هغه
پوښتنه وکړه: «ته څوک یې؟»
هغې په ځواب کې وویل:
«بناغلیه، زه روت یم ستا د پښو
خاورې. ته زما هغه خپلوان یې
چې په ما پام وکړې، نو ته ما
سره واده وکړه.» ۱۰ بوعز په
ځواب کې وویل: «څښتن دې تا

ته برکت درکړي! ته اوس د خپلې
خوښۍ سره د ټولې مرستې څخه
هم لا زیاته وفاداري ښایي. تا
کولای شول چې د ځان دپاره
دې یو ځوان شتمن یا غریب
سړی لټولای وای، خو تا داسې
ونه کړل. ۱۱ اوس فکر مه کوه،
زه به همداسې وکړم څنګه چې ته
غواړې. په ښار کې ټول ستا
درناوی کوي. ۱۲ دا رښتیا ده چې
زه ستا نژدې خپلوان یم چې باید
دربانده پام وکړم. خو بل څوک

هم شته چې هغه ستا ډېر نژدې
خپلوان دی. ۱۳ تر سهاره پورې
دلته پاتې شه، بیا به زه ځان پوه
کړم که چېرې هغه راضي شي
چې ستا مسوولیت په غاړه اخلي،
نو ښه به وي. که هغه راضي نه
شو، نو زه د ژوندي څښتن په نوم
قسم خورم چې زه به په خپله
ستا مسوولیت په غاړه واخلم.
اوس څمله او تر سهاره پورې
پاتې شه.»

۱۴ روت بیا پرېوتله، خو هغه
د رڼا کېدلو نه مخکې راویښه
شوه، ځکه بوعز نه غوښتل چې
بل څوک پوه شي چې روت هلته
وه. ۱۵ بیا بوعز ورته وویل:
«خپله چپنه خوره کړه» او هغه په
کې شاوخوا شل کیلوګرامه غلې
دانې ورواچولې او د هغې په اوږه
باندې یې کېښودله. روت ښېرته
ښار ته راغله ۱۶ او چې کله کور
ته راورسېدله، نو خوابنې ورځخه
پوښتنه وکړه چې «لورې، څه

وشو؟» روت ورته ټول هغه څه
وویل چې بوعز د هغې دپاره
کړي وو. ۱۷ هغې زیاته کړه:
«بوعز ما ته وویل چې زه باید تا
ته تش لاس رانه شم، نو همدا ؤ
چې ما ته یې دا ټولې اوربشې
راکړې.» ۱۸ نعومي روت ته
وویل: «زما لورې اوس صبر کوه،
ترڅو معلومه شي چې څه
پېښیږي. بوعز به نن تر هغې ارام
ونه کړي، ترڅو یې چې دا
موضوع نه وي حل کړي.»

د روت او د بوعز واده

(۱) بوعز د غونډې ځای ته چې د ښار د دروازې سره ؤ، لاړ او هلته کښېناست. کله چې د الیملک زیات نژدې خپلوان راغی، نو بوعز هغه ته بلنه ورکړه چې راشي او کښېني، نو هغه همداسې وکړل. (۲) بیا بوعز د ښار لسو مشرانو ته بلنه ورکړه چې په هغه ځای کې کښېني او هغوی همداسې وکړل. وروسته له

دې چې هغوی کښېناستل، ۳
بوعز خپل خپلوان ته وویل:
«اوس چې نعومي د موآب څخه
بېرته راغلې، هغه غواړي چې هغه
پتې چې زمونږ د خپلوان الیملک
ملکیت ؤ، خرڅ کړي. ۴ زه تا
ته دا ځکه وایم چې ته د هغه د
ټولو نه نژدې خپلوان یې او ته دا
حق لرې چې دا ملکیت واخلې،
که چېرې ته غواړې کولای شې
چې همدااوس یې واخلې. دا لس
مشران او دا نور چې دلته ناست

دي، دا به شاهدان وي. خو که
چېرې ته دا ملکیت نه غواړې بیا
ما ته ووایه، ځکه ستا نه وروسته
بیا زما حق دی.» دې سړي په
ځواب کې وویل: «زه به یې
واخلم.» ۵ بوعز وویل: «ډېره
ښه ده، خو که چېرې ته دا پټې د
نعومي نه اخلې، بیا به د موآبي
کونډې روت سره واده هم کوې،
ترڅو پټې ببرته د هغې د مړ شوي
میړه کورنۍ کې پاتې شي.» ۶
سړي په ځواب کې وویل: «که

چېرې داسې خبره وي، بيا زه نه غواړم چې دا ملکيت واخلم، ځکه چې هغه به زما خپل ملکيت کې څه ستونزه راپيدا کړي. ته يې په خپله واخله، زه يې نه شم اخيستلی.»

۷ په هغو ورځو کې د ملکيت د خرڅولو يا بدلولو او راکړې ورکړې د موضوع د حل دپاره دا رواج ؤ چې خرڅوونکي خپله څپلی ويستله او

اخيستونکي ته به يې ورکوله. په
دې ډول به اسراييليانو وښودله
چې خبره حل شوې ده. ۸ نو
وروسته له دې چې سړي موافقه
وکړه چې بوعز پربږدي چې دا
ملکيت واخلي، هغه خپله څپلۍ
وويستله او بوعز ته يې ورکړه.
۹ نو بيا بوعز مشرانو او نورو
حاضرو کسانو ته وويل: «نن
تاسو ټول د دې خبرې شاهدان
يئ چې ما د نعومي څخه هغه
ملکيت واخيست چې د اليملک

او د هغه د دوو زامنو په نوم ؤ،
چې کلیون او محلون نومېدل. ۱۰
برسېره پردې تاسو د دې خبرې
شاهدان یئ چې زه به روت سره
چې د محلون کونډه ده، واده
وکړم. په دې ډول به دا ملکیت د
محلون د کورنۍ په نوم وساتل
شي او د هغه نوم به په خپلو
خلکو او خپل ښار کې په یاد
پاتې شي.»

۱۱ د ښار مشرانو او نورو

خلکو چې هلته وو، وویل: «مونږ
د دې خبرې شاهدان یو او مونږ
دعا کوو چې څښتن دې ستا
ښځې ته ډېر اولادونه ورکړي،
څنګه چې یې د یعقوب ښځو
راحیل او لیه ته ورکړي وو. ته
دې د افراتې په طایفه کې شتمن
او د بیت‌لحم په ښار کې مشهور
سړی شې. ۱۲ د دې ځوانې
ښځې څخه چې ستا اولادونه پیدا
شي، هغوی دې ستا کورنۍ د
فارص د کورنۍ په شان مشهوره

کړي چې د تامار او يهودا زوی
ؤ.»

بوعز او د هغه اولاده

۱۳ نو بوعز روت خپل کور ته
د خپلې مېرمنې په توګه بوتله.
څښتن هغې ته برکت ورکړ، هغه
امیدواره شوه او زوی يې پیدا شو.
۱۴ د هغه د زېږېدلو څخه
وروسته، ښځو نعومي ته وویل:
«د څښتن ستاینه وکړه. نن هغه تا
ته لمسی درکړی چې په تا پام

وکړي. مونږ دعا کوو چې دا
هلک دې لوی شي او په اسراییلو
کې دې نامتو شي. ۱۵ ته خپلې
انږور ته ګرانه یې او تا سره یې د
اووه زامنو څخه ډېر ښه کړي
دي. اوس یې تا ته لمسی هم
درکړ چې هغه به تا ته نوی ژوند
درکړي او هغه به ستا په اخر عمر
کې ستا ساتنه کوي.» ۱۶ نعومي
ماشوم واخیست، په غږږ کې یې
ونیوه او د هغه ساتنه یې وکړه.
۱۷ ګاونډیو ښځو د هغه نوم

عوبيد کېښود او ويل به يې چې د نعومي هلک پيدا شوی دی. کله چې عوبيد لوی شو د هغه يو زوی پيدا شو چې يسي نومېده او يسي بيا وروسته د داود پلار شو.

۱۸-۲۲ دا د فارص څخه نيولې تر داود پورې د هغوی شجره ده: حصرون د فارص زوی ؤ، رام د حصرون زوی ؤ، عميناداب د رام زوی ؤ، نحسون د عميناداب زوی ؤ، سلمون د نحسون زوی ؤ،

بوعز د سلمون زوی ؤ، عوبید د
بوعز زوی ؤ، یسي د عوبید زوی
ؤ او داود د یسي زوی ؤ.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
© افغانستان ۲۰۲۳ afghanbibles.org